

KHAISOR

# PHOTOGRAPHY

Learn **Professional photography**

BASIC
COURSE

**ADVANCE**
COURSE

**BASIC & ADVANCE**
COURSE

ONE SHOT CAN CHANGE YOUR LIFE

CALL: 093700272780

# بسم الله الرحمن الرحيم

## The basic tips of Photography
## د عکاسي لومړنۍ زدکړي

درنو هیوادوالو د تصویري رسني اون لاين زدکړي
د خیسور ویب پاڼي له لوري په هیواد کي دننه او د هیواد څخه بهر
هیوادوالو ته وړاندي کیږي.
په دې هيله ستاسو سره مو تر خپله وسه همکاري کړې وي.
ستاسو د بریا په هیله
عبدالعلي افغان

http://khaisor.com

# د تصویر اخیستلو په وخت کي د کېمرې د نیولو طریقې.





یادونه: اوس په کامره همدغه عمل تر سره کړئ.





http://khaisor.com



## د تصویر اخیستلو په وخت کي د کېمرې د نیولو طریقې.

یادونه: اوس په کامره همدغه عمل تر سره کړئ.





http://khaisor.com


# Photography frame (Rule of thirds)


## درېیمه قاعده  د تصویر چوکاټ

د یو ښه تصویر د پاره ښه چوکاټ ډېر مهم دئ. هر تصویر ځانته یو چوکاټ یو قاعده لري، که د تصویر چوکاټ سم نه وي، د تصویر ښکلا د منځه ځي.
دې چوکاټ ته درېیمه قاعده یا طلایي خط ویل کیږي.

هره کېمره پر سکرین دوه لوړ او دوه کښته خطونه لري، ورته Grid display ویل کیږي.

هر تصویر پر دغو دوو خطو تقسیمیږي.









http://khaisor.com

يادونه: د کامرې د مينو تڼي ووهئ او د Grid display په مرسته خطونه خوښ کړئ.
که بيا هم نه ياست پوه سوي.
په يوټيوب کي دغه متن لټون وکړئ.
How to Display a Grid in Live View Mode on Your camera




http://khaisor.com



VLC-Very Long Shot



LS- Long Shot



MLS- Medium Long Shot



MCU- Medium Close Up



MS Medium Shot



CU- CLOSE uP



BCU- Big Close Up



ECU- Extreme Close Up

# VLC - Very Long Shot

## ډېر پراخ شاټ



د تصویر اخیستلو هغه چوکاټ ته ویل کیږي، چي د یوې سیمي ښوونه پکښي سوې وي.

که د خبر د پلوه ورته و ګورو په یوه سیمه کي که یوه پېښه سوې وي موږ پېښه او هغه سیمه دواړه په عکس کي ښیو.

مثال:

۱: نن په کندهار ښار کي زیات باران وسو.

۲: د قندوز ولایت کي، د دښت آبدان غرونه د پسرلي په میاشتو کي په شنو وښو پوښل سوي وي.



**یادونه: په راتولني هفته کي همدغسي عکسونه واخلي.**

http://khaisor.com



۱: په ډیرو پراخو چوکاټو کي  دربیمه حصه مځکي ته ور باسو، یعني لاندي خط د مځکي پر سر پروت وي.

۲: مګر که چیري په منظره کي غرونه یا تعمیرونه وي، بیا دربیمه حصه و اسمان ته ایستل کیږي، یعني لوړ خط اسمان او منظره سره جلا کوي.


۳: ځیني وختونه بیا هیڅ خط نه مراعت کیږي، عکسان د عکس د چوکات ګوري، او کوشش کوي، چي د عکس د پاره غوره چوکاټ پیدا کي.



یادونه: په راتولني هفته کي همدغسي عکسونه واخلي.







http://khaisor.com

## L S - Long Shot
## پراخ چوکاټ

د سره تر نوکه په دې چوکاټ کي لوړ خط د زني څخه تر ځيګره په ساحه کي راځي.
د دې تر څنګ د ښنو تر ساحې د سر ساحه په عکس کي اضافه پرېښول کيږي، چي دې ته هېډ روم ويل کيږي.
Head room
ښه مثال يې لاندې ګروپي عکس دئ، چي د ښنو خوا يې بيخي لږ او د سر خوا يې ډېره خاليګاه لري.
په لانګ شاټ کي د ښنو طرف کم او د سر طرف زيات پرېښول کيږي.




يادونه: په راتولني هفته کي همدغسي عکسونه واخلي.






Khaisor
http://khaisor.com




تاسو په دغو ټولو عکسو کي و وینئ، لوړ خط  تر غاړي لاندي دئ، که نفر ناست دئ او که ولاړ،
کښته خوا ئې قید ده او د سر خوا ئې خالي ځای لري، چي هډ روم ورته وايي لري.

یادونه: په راټولني هفته کي همدغسي عکسونه واخلي.







http://khaisor.com





که چیري ستاسو تصویر سایه لري یا دوه ځایه معلومیږي، نو بیا تصویر کم خاص تقسیم بندی نه لري.

فقط هېدروم یې مهم دي چي باید و یې لري.

یادونه: په راتولني هفته کي همدغسي عکسونه واخلي.



http://khaisor.com





## MLS - Medium Long Shot


## ميانه پراخ عکس

ميانه پراخ عکس د قمربند کښته بجلکو پورته عکس ته ويل کيږي.
لوړ خط تر زني لاندي تر ځيګر پورته ځاى پر ځاى کيږي.

يادونه: په راتولني هفته کي همدغسي عکسونه واخلي.

http://khaisor.com

# MS - Medium Shot
# نژدې عکس






میانه عکس تر قمر بند پورته تر ځیګر کښته اخیستل کیږي.

په دې عکس کې پورته خط تر شونډانو لوړ تر ورځو کښته ځای پر ځای کیږي.

یادونه: په راتولني هفته کې همدغسې عکسونه واخلې.

http://khaisor.com



# MCU - Medium Close Up

## ډېر نژدې


د دغه عکس لوړ خط د پزې د بندک څخه بیا تر ورزو  پورته ځای پر ځای کیږي او عکس هېڅ روم نه لري.

یادونه: په راتولني هفته کي همدغسي عکسونه واخلي.





http://khaisor.com



# BCU - Big Close Up


## ډېر نژدې

دا عکس تر ځيګر لوړ اخيستل کيږي لوړ خط  د تندي څخه تر پزي پوري ځاي پر ځای کيږي.
دا عکسونه د خلګو څخه د احساساتو د ښکاره کولو په موخه اخيستل کيږي.
مثال: څوک خاندي، يا څوک ژاړي، يا څوک حېران ګوري.



يادونه: په راتولني هفته کي همدغسي عکسونه واخلي.

http://khaisor.com



## ECU - Extreme Close Up

### ډېر زيات نږدې

دا عکسونه د يو شي د ښوولو د پاره اخيستل کيږي. لکه څنګه چي ئې تاسو په عکسو کي ويني.

يادونه: په راتولني هفته کي همدغسي عکسونه واخلي.






http://khaisor.com

د عکس چپه او راسته:


که چیري تاسو یو بغله عکسونه اخلئ، نو باید د عکس راسته او چپه ته مو پام وي، وګورئ چي نفر کومي خواته متوجه دئ.

مثال: یو ورزش کاره کمي خواته ګوري؟ هغه طرف د عکس خالي ساحه لري، بل نفر خبري او په لاسو اشارې کوي، هغه طرف یې خالي دئ، یوه ښځه ناسته ده کوم طرف ته چي ګوری هغه طرف ئې خالي دئ.

داسي عکسونه کم اخیستل کیږي، چي د نفر د شا طرف خالی ساحه و لري او د مخ ساحه ئې بنده وي.



**یادونه: په راتولني هفته کي همدغسي عکسونه واخلي.**





http://khaisor.com

# Media Camera Shot

# د رسنیو د پاره عکاسي



Cut - In
Shows some part to the subject in detail.

ډېر زيات نژدې

هغه عکس ته ویل کیږي، د یو کس یا یو شي

یوه حصه پکښي تشريح کیږي



Tow - Shot
A comforable shot of tow people
framed similarly to a mid shot

جوړه عکس

د دو جوړو ارام حالت ښيي دغسي عکسونه

زيات وختونه نيم تنه اخيستل کيږي



OSS (over the shoulder shot)
Looking from behind a persone

له اوږې څخه
عکس د یوې اوږې د شاڅخه شروع سوی وي



Noddy Shot
Noddies can be used in drama
and other situation

تمثلي عکس

دغه ډول عکســـونه د ځيني خلکو او ځينو ممثلينو څخه د تمثيل

په وخت کي اخيستل کيږي.

د هدف حرکتونه او خويونه پکښي ښوول کيږی

http://khaisor.com

# یادونه

درنو دوستانو تر هرڅه مخکې ستاسو د ګډون څخه د زړه له کومې مننه کوو.

د خیسور ټول همکاران کوشش کوی چې تاسو ته وړیا درسونه وړاندې کړي.

ستاسو څخه په ډېر درنښت هیله کوو، چې ټول درسونه عملي کړئ.

که چیرې تاسو په حقیقت کې غواړي زده کړه وکړئ، نو د مهرباني له مخې اوس عملاً کار وکړئ او هر پوښتنه چې

لری زموږ سره یې شریکه کړئ.

http://khaisor.com